افسانه

# مېرمن 2.O.D

موسی ګل ګل

د تـور ټـوډي مـوټـر په شاته سيټ ناسته سپيـن پړونـي والا پېـغـلـه يـقيناً د يو لوئي کور مېـرمـن ښکارېده. چې د هر خالي په ورځ به د ښار طرف نه راتله او د جواد نه به ئې مېوه اخستله.

د جواد د سړک په غاړه د مېوې دکان ؤ. دا پېغله ډېره حياناکه او پړده داره وه. خو سودا له به پـه خپـلـه راکوزېده. هر ځل به نااشنا نااشنا موټر کښې راتـله. تورې چشمې به ئې لګولې وې. ګل وريـن ويښتـو بـه ئې د مـازيګـري نـمر په پلوشو کښې زړۀ پـورې ځـلا کـولــه. د فرانـس د سپرے خوشبويه وږمې به ترې تر لرې لرې راتلې.

جـواد يو شريف،ايماندار او محنتي ځوان ؤ. د خپـلـې د کـاندارۍ سره سره د مونځ او ذکر هم پابند ؤ. او چې کله به ماښام کور ته راتلو نو د ځان سـره بـه ئې خپـلـې کونډې بوډۍ مور له پخه پخه مېوه راوړله....

نـن بيـــا د خـــالـي ورځ وه جـواد هغې تـه ستـرګې په لار ؤ. د ماښام بانګ وشو. د مانځه نه پـس دکان ته را روان ؤ. مېرمن نن د سوزني ټوډي کښې راغلې وه. د سلام کلام نه پس جواد زر زر د مېـرمـن د غـوښتـنـې مطابق مېوه وتلله او هغې د سپيـن پرس نه يو زرګون ورکړو. جواد سره ماتې نـه وې خـو هغې ور ته ووې چې بيا به شي. زما او ستـا څـه يـوه ورځ خـو نۀ ده. د جواد نه ئې تپوس وکړو. تـاسو څه وخت دکان بندوئ؟ نن ناوخته شو هسې نـور کـلـه د مـاښام مونځ له کور ته ځم. څه خـفـه کېږه مۀ تـر کوره رسول دې زما په ذمه شو. دې خبرې سره جواد د خوشحالۍ نه په جامو کښې نــه ځائيدو. زر زر ئې دکان بند کړو او د پېغلې په ويـنـا د هـغې د ډرائيور سره مخکښې سيټ کښې کېښناستو...

دې دوران کښې مېـــرمـن د جـواد نـه ښـه کافي معلومات ترلاسه کړل او جواد ور ته هم خپل ټـول حـال احـوال بيس په بيس بيان کړو. چې کلے رانـزدې شـو نـو جـواد ور ته ووې دې مخامخ بوره سـره زمـونږ کـلـي تـه کچه سړک تلے دے ما دلته کـوز کړئ. نه جي..... چې په خپل کور مې دننه کړے نـه ئې نـو سـود مې نۀ شي...... موټر خپل دے څـه تـکـليف نشته. جواد ئې د خپلې دروازې خوا کښې کوز کړو. هغه ور ته د ډوډۍ کلک ست وکړو خـو هغې ووې مهرباني...اوس خو مې کور وليدو...بيا به شي.

جواد چې مور ته د پېغلې دا حال بيان کړو نـو مـور ئې مېـرمـن ته دعاګانې شروع کړې. رب دې دا پېـغـلـه د سـرو سپيـنو او ډېرو شتو مېرمن کړي.

دوه هفتې تېرې شوې خو د مېرمن څه پته ونه لګېده. جواد له چې ئې کوم نمبر ورکړے ؤ هغه هم بند راتلو. دوه هفتې پس تېر ماسخوتن ناڅاپه ئې د خپل ور خوا کښې د موټر اواز تر غوږ شو. جواد چې ننداره وکړه نو دا هغه مېرمن وه چې نن ورسره يوه بله تنکۍ پېغله په ټوډي موټر کښې راغلې وه. دوي د جواد په کالۀ رادننه کېدل چې ډرائيور ته ئې ووې ګېنټه پس راشه....

دوي د جواد کور ته دننه شوې او د هغه د مور سره کېښناستلې. څه ډالۍ مالۍ جوړې جامې ئې هم ځان سره راوړې وې. يوه جوړه ئې ابئ او بله جواد له ورکړه.

ابئ تا ته به جواد وئيلي وي. د الله تعالی رحم دے زمونږ د هيڅ څه کمے نشته. ښائسته بنګله کښې وسېږو. زما غريبانان خلق خوښ وي او بيا جواد سره خو مې زياته اشنائي راغلې ده. زما د کشرې خور د وادۀ پروګرام روان دے. سبا تاسو ښار ته بوځم...

يه لورې! تاسو سره الله ښه شه چې لا مونږ غريبانو باندې دومره مهرباني کوئ.... رب دې د سرو سپينو مېرمن کړه بچے.. لږ ساعت پس موټر هارن ووهلو او دواړه پېغلې رخصت شوې. نن سحر جواد دکان ته لا نه رو. جواد د مېرمن راوړې جوړه واغوستله او بهر کوڅه کښې اوړېدۀ را اوړېدۀ چې د يو کلي وال پرې نظر شو. هلکه نن خو دې د ښاريانو فېشن کړے دے خبر خو دے. دا راله چا ډالۍ راکړې ده. چا...؟ بس ته څه کوې.

دوي دا خبرې کولې چې مېرمن راغله او د جواد دوي په کور ور دننه شوه. جواد زر کور ته راغلو او ساعت تېر نه ؤ چې جواد دوي په سلورې نوي ټوډي کښې د ښار په لورې روان شول. مېرمن نن تورې چشمې اچولې وې او سپين پرس ئې په لاس کښې ؤ. کچه غرمه وه چې دوي د ښار د زرګرانو په بازار ور دننه شول. موټر ئې په جرنيلي روډ يو طرف ته ودرولو او جواد ته ئې ووې راځه لږ شاپنګ کوو... ابئ به موټر کښې ناسته وي.

د ټولو زرګرانو دوي ته سترګې وې. اخر يو لوئې دکان ته مېرمن وردننه شوه. زرګر زر د چائې وينا وکړه جواد ته دکان ډېر زيات غټ ښکارېدو خو اصل کښې دا آئينې وې چې دکان ئې يو په دوه ارت ځلولو.

سلام کلام نه پس مېرمن زرګر ته د قسما قسم کالو نومونه واخستل. زرګر خوشحاله شو چې څه که خبر وي کار وشو. پېغله جوړ د ډېر اوچت کور سره تعلق لري. دې کښې چائې راغلې او زرګر ور ته په خپله پيالۍ ډکې کړې. مېرمن ته ئې ډېرې نمونې په ټرې کښې کېښودلې. مېرمن د چائې نه دوه ګوټه کړي وو چې ناڅاپه ئې تورې چشمې د زرګر خوا کښې په شوکېس کښېودلې. په سرو شونډو ئې ژبه ووهله. ټرې ئې تر لاسه کړه او جواد ته ئې مخ کړو. تاسو کښېنئ دا نمونې ابئ ته ښايم...راځم.... مېرمن سمدستي روانه شوه څه ساعت پس زرګر جواد ته ووې مېرمن مو ډېره لېټ شوه چائې ترې سړېږي... چائې د سوړوالي د لاسه ټينګ پېروے وونيولو ولې د ټوډي مېرمن واپس رانغله....